# A Guide to School in England and Wales

## Education Levels in English and Welsh Schools

### Early Years/Foundation Stage (EYFS):

Pre-school and Reception

Pre-school:

- Children start Reception after the age of 3.
- After turning 3, children are entitled to 15 free hours of childcare per week, some parents choose to pay for more.
- Some pre-schools also take 2-year-olds.

Reception:

- For children aged 4-5.
- Children start Reception the September after their 4th birthday.

### Primary School:

Infants:

Key stage 1 (KS1): refers to Years 1 and 2 for ages between 5-7 years

Juniors:

Key stage 2 (KS2): Refers to Years 3 to 6 for ages between 7-11years

### Secondary School:

- Aged between 11-16

Key stage 3 (KS3): refers to Years 7-9 for ages between 11-14

Key stage 4 (KS4): refers to Years 10-11 for ages between 11-16

GCSE: exam at end of Years 11

# School Terms:

Autumn term: from September to December.

- Half Term- usually around end of October, (one week) off.
- Christmas holiday (two weeks).

Spring term: from January to Easter Half Term.

- (One week) holiday in February.
- Easter holidays (two weeks) in March or April.

Summer Term: from April to July.

- Half term holiday (one week) it will be in the last week of May or in the first week of June.
- Summer holiday (six weeks) in July and August.

# The school day

- Classes begin at 9 o'clock in the morning, but students need to arrive at the school before that time to prepare themselves for study.
- There is a break time in the afternoon (lunch time) during this break the children have lunch at the school.
- School hours end at 3pm in the evening for (pre-school), and 3:15 for the rest of the children.

# Homework:

### EYFS – Early Years Foundation Stage (pre-school and Reception):

- Parents are usually expected to read regularly with their children (reading to them, then listening to them when they learn to read).
- The teacher may set a weekly fun homework linked to the topic they are studying- very informal. Reading is most important.
- Homework expectations can vary from school to school.

### Key stage 1 (KS1): Years 1 and 2 :

- Homework is normally very informal- reading is the most important.
- Children might also have a weekly challenge or worksheet (Maths or English).

- Also spelling homework normally starting in KS1. Children may have 5-10 spelling words per week.
- Some schools also subscribe to online learning platforms eg. Nessy, Purple Mash, Time Table Rockstars.

### Key stage 2 (KS2): Years 3-6 :

- Children may have English\Maths worksheet each week.
- Spelling for weekly tests.
- There may be a work project in each term linked to a specific topic chosen by the teacher.
- Plus online learning if desired.

## Clubs:

- Most schools offer extracurricular activities either at lunch time or after school. These activities are currently reduced due to Covid-19 restitution.
- For example, after school clubs could include football, tennis, basketball, netball etc. Or non-sports activities such as choir, art club or dance club etc.
- Some schools also offer after school clubs and breakfast clubs, which is free for children whose parents who are working or need their children to be looked after outside of school hours.

## Parents/Teacher Meetings:

- Normally, there would be a chance each term to meet in person with your child's teacher (parents evening) for a more formal chat about how your child is getting on.
- Depending on Covid-19 restrictions, these meetings may be moved online.
- If you have any concerns about your child and would like to speak to their teacher, you may be able to speak to them in the playground, or phone or email them to arrange an appointment.

## Non-Uniform School Days:

- Often, once a term, a school may have a non-uniform day to raise money for charity. Children can wear their own clothes.
- Usually also offering £1 donation.

- Parents will be informed about non-uniform days by a letter or an email.

## Physical Education (PE):

- Meaning teaching physical exercise and games especially in school.
- Children have separate clothes to wear for to their PE lesson.

## School lunch:

- Children can choose to have a hot cooked meal at school or bring in their own packed lunch.
- School dinners are free for all children up until the end of Year 2, but certain children can continue to receive free school meals as part of a government scheme.
- Children should bring their water bottles with them to school.

# په انګلستان او ويلز کې د ښوونځي لپاره يو لارښود

## په انګليسي او ويلزي ښوونځيو کې د زده کړو کچې

### لومړني کلونه/ د بنياد پړاو (EYFS):

له ښوونځي څخه د مخه او پذيرش

<u>له ښوونځي د مخه دوره:</u>

- زده کوونکي له 3 کلنۍ څخه وروسته پذيرش پيلوي.
- ماشومان له درې کلنۍ څخه وروسته په اونۍ کې د 15 ساعته وړيا ماشوم پالنې مستحق دي، ځينې والدين انتخابوي چې د نورې پاملرنې لپاره تاديه وکړي.
- ځينې له ښوونځي څخه د مخه دورې هم 2 کلن ماشومان نيسي.

<u>پذيرش:</u>

- د هغو ماشومانو لپاره چې عمرونه يې له 4 تر 5 کلونو پورې وي.
- ماشومان د خپلې څلورمې زوکړې له سپتمبر څخه وروسته پذيرش پيلوي.

### لومړنی ښوونځی:

<u>نوي ماشومان:</u>

<u>کليدي پړاو 1 (KS1):</u> 1 او 2 کلونو ته ارجاعات د 5 او 7 کلنو لپاره.

<u>کوچنيان:</u>

<u>کليدي پړاو 2 (KS2):</u> 3 تر 6 کلونو ته ارجاعات د 7 څخه تر 11 کلنو لپاره.

### ثانوي ښوونځی:

- له 11 څخه تر 16 کلنو پورې:

<u>3 کليدي پړاو (KS3):</u> 7 تر 9 کلنو ارجاعات د 11 او 14 کلنو تر منځ

<u>4 کليدي پړاو (KS4):</u> 10 تر 11 کلنو ارجاعات د 11 او 16 کلنو تر منځ

<u>GCSE:</u> د 11 کال په پای کې ازموینه

## د ښوونځي دورې:

د مني دوره: له سپټمبر څخه تر ډسمبر پورې.

- نیمه دوره- معمولا د اکتوبر په پای کې، (یوه اونۍ) رخصت.
- د کرسمس رخصتي (دوه اونۍ).

د پسرلي دوره: له جنوري څخه د ایستر تر نیمه دورې پورې.

- (یوه اونۍ) په فبروري کې رخصتي.
- د ایستر یا پاک اختر رخصتی (دوه اونۍ) په مارچ یا اپریل کې.

د اوړي دوره: له اپریل څخه تر جولای پورې.

- د نیمي دورې رخصتي (یوه اونۍ) به د مي په وروستی اونۍ کې یا د جون په لومړۍ اونئ کې وي.
- د اوړي رخصتي (شپږ اونۍ) په جولای او اګست کې.

## د ښوونځي ورځ

- تولګي د سهار په 9 بجو پیلیږي، مګر زده کوونکي باید له دې وخت څخه د مخه ښوونځي ته را ورسیږي تر څو خپل ځانونه مطالعې ته چمتو کړي.
- له غرمې څخه وروسته یو د دمې وخت (د ډوډۍ وخت) دی، د دې دمې پر مهال ماشومان په ښوونځي کې د غرمې ډوډۍ خوري.
- د ښوونځي (له ښوونځي د مخه) ساعتونه د غرمې په 3 بجو پای ته رسیږي، او د نورو ماشومانو لپاره په 3:15 بجو پای ته رسیږي.

## کورنۍ دنده:

### EYFS – د لومړنیو کلونو د بنسټ پړاو (له ښوونځي د مخه او پذیرش):

- له والدینو څخه معمولا دا تمه کیږي چې په منظم ډول له خپلو ماشومانو سره کتاب ولولي (هغوی ته لوستل، کله چې لوستل زده کړي، هغوی ته غوږ نیول).
- ښوونکی کېدای شي یوه تفریحي اونیزه کورنۍ دنده تنظیم کړي چې له هغه مضمون سره اړیکه ولري کوم چې هغوی په خورا غیر رسمي توګه مطالعه کوي. لوستل خورا مهم دي.
- د کورنۍ دندې تمې کېدای شي چې له یوه ښوونځي څخه تر بله توپیر ولري.

### کلیدي پړاو 1 (KS1): 1 او 2 کلونه:

- کورنۍ دنده په عادي توګه خورا غیررسمي ده - لوستل خورا اړین دي.
- ماشومان کېدای شي همدارنګه یوه اونیزه ننګونه یا کاري شیټ ولري (ریاضي یا انګلیسي).

- همدارنګه د املا کورنۍ دنده په KS1 کې پیل کېږي. ماشومان کېدای شي په اونۍ کې 5 تر 10 کلیمې املا ولري.
- ځینې ښوونځي همدارنګه د زده کړې په آنلاین پلېټفارمونو کې هم ګډون کوي لکه Nessy، Purple Mash، Time Table Rockstars.

## کلیدي پړاو 2 (KS2): 3-6 ټولګي:

- ماشومان کېدای شي چې په هره اونۍ کې د انګلیسي/ ریاضي کاري پاڼه ولري.
- د اونیزو ازموینو لپاره املا.
- کېدای شي چې په هره دوره کې یوه کاري پروژه وي کومه چې له یوه مشخص مضمون سره اړیکه لري چې د ښوونکي له لوري ټاکل کېږي.
- پر دې سربېره آنلاین زده کړې ته هم اړتیا ده.

## کلبونه:

- ډېرى ښوونځي یا د غرمې پر مهال یا له ښوونځي څخه وروسته له نصاب څخه بهر فعالیتونه وړاندې کوي. دغه فعالیتونه د اوس لپاره د کووید-19 د محدودیت له امله کم شوي دي.
- د بېلګې په توګه، له ښوونځي څخه وروسته کلبونو کې کېدای شي فوټبال، ټېنس، باسکېټ بال، نېټ بال او داسې نور شامل وي. یا غیرسپورتي فعالیتونه لکه د ترانو ویل، هنري کلب یا د نڅا کلب او داسې نور.
- ځینې ښوونځي همدارنګه له ښوونځي څخه وروسته کلبونه او د سهارنۍ کلبونه وړاندې کوي چې د هغو ماشومانو لپاره وړیا دي چې پلرونه یې کار کوي یا اړتیا لري چې پر ماشومانو یې له کاري ساعتونو څخه بهر موده کې پام وشي.

## د والدینو / ښوونکي لیدنې:

- په عادي توګه به د دې چانس موجود وي چې تاسو د خپل ماشوم له ښوونکي سره په حضوري بڼه وګورئ (د والدینو ماښام) تر څو په دې اړه نوري خبرې وکړئ چې ستاسو ماشوم څنګه پر مخ ځي.
- د کووید-19 محدودیتونو ته په کتو سره کېدای شي چې دغه لیدنې په آنلاین بڼه لیدنو ته بدلې شي.
- که چېرته تاسو د خپل ماشوم په اړه کومه اندېښنه لرئ او غواړئ د هغه له ښوونکي سره خبرې وکړئ، کېدای شي وکولای شئ له هغوی سره د لوبو په ډګر کې، په ټلیفون خبرې وکړئ یا ایمېل ور واستوئ تر څو یوه لیدنه تنظیم کړي.

## د ښوونځي غیریونیفورم ورځې:

- ځینې وخت، په دوره کې یو ځل کېدای شي چې ښوونځی یوه غیریونیفورم ورځ ولري تر څو د خیریه کارونو لپاره پیسې را ټولې کړي. ماشومان کولای شي خپلې جامې واغوندي.
- همدارنګه معمولاً £1 مرسته ورکوي.
- والدینو ته به د غیریونیفورم ورځو په اړه د لیک یا ایمېل له لارې خبر ورکړل شي.

## فزيکي زده کړه (PE):

- د فزيکي تمرين او ګېمونو ترسره کولو په معنا ده، به ځانګړې توګه په ښوونځي کې.
- زده کوونکي د خپل PE درس لپاره ځانګړې جامې لري.

## د ښوونځي د غرمې خواړه:

- زده کوونکي کولای شي انتخاب کړي چې په ښوونځي کې ګرم پاخه شوي خواړه ترلاسه کړي يا يې له ځان سره راوړي.
- د ښوونځي د ورځې خواړه د 2 کال تر پايه پورې د ټولو ماشومانو لپاره وړيا دي، مګر ځينې مشخص زده کوونکي کولای شي د يوې دولتي طرحې د يوې برخې په توګه د ښوونځي د وړيا خوړو ترلاسه کولو ته دوام ورکړي.
- ماشومان بايد خپل د اوبو بوتلونه له ځان سره ښوونځي ته راوړي.